مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۲۰۲۴/۰۴/۱۱

# د یهودو عادلانه جګړې

(اته ویشتمه برخه)



(د اسراییلي صهیونستي نازي دولتي ترهګرو لخوا د فلسطیني ماشومانو وژل.)

### د یهودو پیغمبران او نبیان او د پیغمبرانو وژنې (۴)

### د پیغمبران وژنې

(یحیا) نبي د زکریا کاهن زوی ؤ، یحیا له عیسی (ع) سره هممهاله او په یهودا باندې د رومیانو د ولکې پر مهال په اسراییلو کې اوسیدلی دی. یهودان یحیا د پیغمبر یا نبي په توګه نه مني، یحیا د یهودانو پر ناروا کړنو نیوکې کولې، تر دې چې د یهودا د (جلیل) ښار پر رومي حاکم (هیرودیس) پر فاسدو اخلاقو یې هم نیوکه وکړه.

یحیا یهودان افعي منګوران (ماران) بللي:«کله چې یحیا ولیدل چې د یهودو قوم ډېر ځانښودونکي روحانیون او مشران هغه ته د تعمید د غسل[1] کولو په موخه ورځي، نو هغوی ته یې وویل: **ای د افعي زامنو! چا درته ویلي چې تاسې کولی شئ د خدای له راتلونکي غضب څخه وتښتئ؟** مخکې له هغې چې تاسې ته د تعمید غسل درکړم، باید په ښو چارو ثابته کړئ چې له خپلو ګناهونو مو توبه کړې ده. په دې فکر ځانونه مه غولوئ چې موږ یهودان یو او د ابراهیم له نسله یو، ، دا ډول خیالونه خوشي او بېمانا خیالونه دي خدای کولی شي له دغو تیږو څخه د ابراهیم لپاره نسلونه [زامن] جوړ کړي.» (متیَ انجیل:۷/۳تر۹پورې)

د یهودو کاهنانو د تل په څېر د یحیا نبوت او بلنه ونه منله چې په اړه یې عیسی د یهودو لوی کاهن او نورو ته وویل: له دې امله چې تاسو د یحیا بلنه ونه منله نو له تاسو به بدکارې ښځې او نورګناهکاران هم وړاندې جنت ته ورشي:**«ډاډه اوسئ چې ګناهکاران او فاحشې ښځې به ژر له تاسو څخه د خدای پاچاهۍ ته ورسیږي** ځکه چې یحیا تاسې توبې او د خدای پر لور دعوت کړئ خو تاسو د هغه دعوت ته پام ونه کړ، په داسې حال کې چې ډېرو ګناهکارانو او فاحشو ښځو د هغه پر خبرو ایمان راوړ، تر دې چې د دې پېښې په لیدلو سره مو بیا هم ایمان رانهوړ.» (متیَ:۳۱/۲۱)

[1]: د تعمید غسل: د عیسویانو په ګروهه په اوبو باندې لمبل دي چې پر بنسټ یې یو عیسوی کس له ګناهونو پاکیږي... .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عیسی خپلو مخالفینو ته دا هم ویل:«ډاډه اوسئ چي د قیامت په ورځ به د سدوم او عموري فاسدو خلکو وضع له تاسو څخه ډېره ښه وي.» (متیَ:۱۰/۱۵)

لکه وړاندې چې یادونه وشوه، یحیا د رومیانو پر یو چارواکي هیرودیس باندې نیوکه وکړه، هغه نیوکه له د کبله وه چي هیرودیس د خپل ورور له ښځي سره واده کړی ؤ:«هیرودیس د خپلې ښځي (هیرودیا) په ټینګار (چي وړاندې د هیرودیس د ورور (فیلیپ) ښځه وه) یحیا بندي او په زندان کي به ځنځیرونو وتاړه، یحیا له دې امله ونیول شو چي هغه هیرودیس ته ویلي وو چي د خپل ورور له ښځي سره د هغه وادهکول تېروتنه او ګناه ده. هیرودیس غوښتل یحیا ووژني خو د خلکو له بغاوت څخه په وېره کي ؤ ځکه چي خلکو هغه نبي باله خو د هیرودیس د زیږېدو د کالیزې د مراسمو په ورځ د هیرودیا لور داسي ونڅېده چي د هغې ګډا هیرودیس ډېر خوشاله کړ او لوړه یې وکړه چي هر څه وغواړي هغه به یې ترسره کوي. هغه وو چي د هیرودیا لور د خپلې مور په سپارښتنه، له هیرودیس څخه په یو طلايي لوښي کي د یحیا د سر غوښتنه وکړه. پاچا [هیرودیس] د دا ډول غوښتني له امله ډېر خواشینی شو، دا چي د ټولو پر وړاندې یې لوړه کړې وه، نو امر یې وکړ چي د هغې غوښتنه دې پر ځای شي. **هغه وو چي د یحیا سر یې په زندان کي له تنه غوڅ کړ** او په یو طلايي لوښي کي یې راوړ او هغې جلکی ته یې ډالی کړ، جلکې هغه خپلې مور ته یوړ. د یحیا شاګردان راغلل او د هغه [بېسره] تن یې خاورو ته وسپاره او عیسی یې له پېښې خبر کړ.» (متیَ:۱۴/۳تر۱۲پورې)

د یهودو وروستنی پیغمبر عیسی مسیح چي د مریمې زوی ؤ او په یهودو کي وروسته له ده بل پیغمبر یا نبي نه دی راغلی، یهودان د عیسی پیغمبري نه مني، په داسي حال کي چي د یهودو نبي زکریا د یهوه خدای له لوري د عیسی له راتلو، پنځهسوه کاله وړاندې وړاندوینه کړې وه[2]:«ای زما قومه! خوشالي وکړئ، د خوشالي ناري پورته کړئ ځکه چي ستاسو پاچا رادرومي، هغه یو بریالی ژغورونکی دی او په عاجزې سره پر خرګي باندې سپور راځي. زه به له تاسو آسونه او جګړهییزې ګاډې واخلم او ستاسو جګړهییزې لیندی به ماتي شي ځکه چي ستاسو پاچا د ټولو قومونو په منځ کي سوله راولي.» (د زکریا کتاب:۹/۹-۱۰)

د یحیا نبي له وژل کیدو وروسته یهودان د عیسی پیغمبر پر وړاندې پورته شول، عیسی چي د تحریف شوي تورات ډېری خرافات یې نه منل او د یهودو کاهنانو پر خلاف یې یوه ځانګړي سولهییزه لاره غوره کړې وه چي له خپلو دښمنانو سره یې هم دښمني نه کوله هغه ویل:«له خپلو دښمنانو سره مینه وکړئ، څوک چي له تاسو کرکه کوي تاسو ښه ورسره کوئ.»[3]

عیسی یهودانو ته په ګوته کړه چي تاسو د خپلو قاتلو نېکونو په څېر د پیغمبرانو وژونکي یاست، عیسی د یهودو کاهنانو ته وویل:«هو همدا وېروونکی عذاب ستاسو په انتظار کي هم دی، تاسو ډېر درانه دیني مکلفیتونه د خلکو پر اوږو باروئ، کوښښ نه کوئ داسي زدهکړې ورکړئ چي ترسره کول یې اسان شي.

**افسوس پر تاسو چي کټمټ د خپلو نېکونو په څېر یاست چي پخوا یې د خدای پیغمبران ووژل.** تاسي د خپلو پلرونو شرمونکي کړني تصدیقوئ، که تاسي پهخپله هم وای هماغه کړني به مو ترسره کړې وای.

له دې کبله ده چي خدای ستاسو په هکله ویلي دي: زه به پیغمبران او رسولان درولېږم خو تاسو به ځیني ووژنئ او ځیني نور به وځوروئ خو خدای به د ټولو وژل شویو انبیاوو غچ له تاسو واخلي (چي د نړی له پیدایښت څخه تر اوسه وژل شوي دي) له هابیل نیولي تر زکریا پورې (چي د خدای په کور، د قربانځای او سپیڅلي ځای تر منځ ووژل شو.) هو! د دوی د ټولو د وژنو ګناه ستاسو پر غاړه دی.» (لوقا:۱۱/۴۶تر۵۲پورې)
عیسی پر یهودي کاهنانو باندې په پرلهپسي توګه نیوکي کولي، عیسی خلکو ته وویل:«دا به هم ووایم: تر څو پورې چي تاسي د یهودو له دیني علماوو او مشرانو څخه بهتر نه شئ، لرې ده چي آسماني پاچاهی ته ورسیږئ.» (متیَ:۵/۲۰)

[2]: د زکریا کتاب سریزه.
[3]: د لوقا انجیل:۶/۲۷.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

عیسی خلکو او خپلو شاګردانو ته وویل:«مذهبي علما او فریسیان د موسی پر چوکۍ ناست دي او د هغه احکام تفسیروي، څه چې تاسو ته وایي پر ځای یې کړئ خو هېڅکله د دوی پر کړنو عمل ونه کړئ ځکه څه چې نورو ته وایي پهخپله عمل نه پرې کوي، دوی دیني احکام د درنو بارونو په څېر د خلکو پر اوږو باروي خو پهخپله حاضر نه دي هغه عملي کړي. هر کار د ځانښودنې لپاره کوي... .» (متیَ:۲۳/۱تر۵پورې)

«افسوس ستاسو پر حال، ای دیني علماوو او فریسیانو! څومره دومخي یاست! نه پرېږدئ چې څوک د خدای پاچاهی ته ورسیږي او نه پهخپله ورتلل غواړئ، خپل لمونځونه قصداً اوږدوئ تر څو په دې توګه خلک ووایي چې پرهېزګاران یاست خو په پټه د بېوسو کونډو ښځو مالونه خورئ. افسوس ستاسو پر حال! هر ځای تر پښو لاندې کوئ تر څو څوک ومومئ چې ستاسو مریدان شي نو کله چې بریالي شئ هغو له خپلو ځانونو څخه لا بد دوه برابره جهنم ته برابروئ.» (متیَ:۲۳/۱۳تر۱۵پورې)

عیسی د اورشلیم ښار د پیغمبرانو وژونکی ښار بللی دی، د عیسی موخه د اورشلیم څخه د نوموړي ښار یهودي اوسیدونکي دی، هغه وایي: **«ای اورشلیمه، ای اورشلیمه، ای هغه ښاره چې د خدای پیغمبران او رسولان دې سنګسار کړل!** څو ځلې مې وغوښتل ستا زامن راټول کړم، داسې لکه چرګه چې خپل چرګوړي د خپلو وزرونو لاندې پټوي خو تا ونه غوښتل، اوس ستاسو کور ستاسو لپاره وران او ویجاړ پاتې کیږي... .» (متیَ:۲۳/۳۷-۳۸)
د عیسی پیغمبر د دا ډول سختو نیوکو او څرګندنو له امله یهودي کاهنانو د هغه پر وړاندې غبرګونونه پیل کړل چې په پای د عیسی د وژلو هڅې یې هم وکړې. عیسی به د خدای په امر هر ډول ناروغان روغول خو د یهودو کاهنانو به ویل چې عیسی له دې امله «ناپاک روحونه له خلکو بهر کوي چې هغه پهخپله د ناپاکو روحونو مشر دی او شیطان یې د ننه په وجود کې ځای نیولی دی.» (متیَ:۹/۳۴؛۲۳/۲۴)

هغه مهال چې د یهودو کاهنانو پر عیسی د کفر تورونه ولګول نو د عیسی له دوولسو شاګردانو څخه یو هم یهودا اسخریوطي ؤ چې له خپل استاد سره یې خیانت وکړ او د هغه پر خلاف شو، نوموړی د یهودو لوی کاهن ته ورغی ورته ویې ویل: **څومره [سپکې] راکوئ چې زه عیسی در تسلیم کړم؟ هغوی د سپینو زرو دېرش سپکې ورکړې** چې له هغې وروسته هغه د یو مناسب وخت په تمه ؤ چې عیسی ورتسلیم کړي.» (متیَ:۲۶/۱۴تر۱۶پورې)

«... یهودا اسخریوطي راورسید، له هغه سره یو شمېر کسان چې توري، د لرګي ډنډې او ګرزنه ورسره وو راغلل، هغوی د یهودو د قوم د مشرانو لخوا لیږل شوي وو. د عیسی خائین شاګرد، ورسره کسانو ته ویلي وو: زه چې څوک په مخ ښکل کړم هماغه عیسی دی، هغه ونیسئ. هغه وو چې یهودا مخامخ عیسی ته ورغی، هغه ته یې وویل: سلام استاده! او د هغه مخ یې ښکل کړ. عیسی وویل: زما دوسته، خپل کار ژر ترسره کړه. بیا هغوی وړاندې شول او عیسی یې ونیو.

دا مهال د عیسی یو شاګرد توره وایستله او د توري په یو ګزار یې د لوی کاهن د یو غلام غوږ غوڅ کړ. عیسی هغه ته وویل: توره دې په تکه (د توري پوښ) کې کېږده، څوک چې توره وباسي په توره به ووژل شي.» (متیَ:۲۶/۴۷تر۵۱پورې)

یهودي کاهنانو عیسی د رومیانو حاکم (پیلاطوس) ته وړاندې کړ، پیلاطوس پوهیده چې یهودي مشرانو عیسی د هغه د محبوبیت له امله نیولی دی، «دا مهال چې پیلاطوس د محاکمې غونډه اداره کوله، ښځې یې پیغام ولیږه چې له دغې بېګناه سړي سره کار مه لره چې تېره شپه مې د هغه په خاطر وېرهوونکي خوبونه لیدلي دي.

پیلاطوس نه غوښتل عیسی اعدام کړي خو یهودانو ټینګار کاوه چې باید اعدام شي. «کله چې پیلاطوس پوه شو چې نورې [خبرې] ګټه نه لري او د بغاوت امکان هم شته، ویې ویل: په کاسه کې اوبه راوړئ، اوبه یې راوړې. پیلاطوس د خلکو د سترګو پر وړاندې خپل لاسونه ومینځل، ویې ویل: **زما لاسونه د دغه سړي له وژلو څخه پاک دي، څه چې پېښیږي مسؤلیت یې ستاسو پر غاړه دی.**

**د [یهودو] ډلې ناره کړه: د هغه د قتل مسؤلیت دې پر موږ او زموږ پر زامنو وي.»** (متیَ:۲۷/۱۹-۲۴-۲۵)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هغه وو چي عیسی یي په صلیب وځړاوه، دا مهال د یهودو «لویو کاهنانو او د قوم مشرانو په [عیسی] پوري ملنډې وهلي، ویل یي: تا نور ژغورل، اوس خپل ځان نه شئ وژغوري، تا دعوه کړي وه چي د یهودو پاچا یي، نو اوس ولي له صلیب څخه نه راکوزېږې چي موږ ایمان درباندې راوړو؟ ویل دي چي پر خدای توکل لرې او د هغه زوی یي، نو ولي دې خدای نه ژغوري؟» (متیَ:۴۱/۲۷تر۴۳پورې)

دا وو د یهودو د ډول، ډول پیغمبرانو او انبیاوو د وژنو او زورونو په هکله مالومات چي څه ډول یهودو خپل پیغمبران او نبیان وژلي او شکنجه کړي دي.



(د صهیونستانو لخوا د حماس د سیاسي مشر، اسماعیل هنیه دري تنه ځوان زامن او څلورو تنو لمسیانو وژل)

نېټه:۱۴۰۳/۱/۲۳ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اخڼ نوري لیکني په دی لینک کي ولولی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ